# یویشتمه پېړۍ او پښتوته راولاړې کشالې

**Dr Wazir Shadan**★

**ABSTRACT:**

*Language is considered to be a vital source of expressing our passions, emotions, feelings and ideas. It enables communicate our needs and desires. In this regard mother tongue that is language one [L ۱] plays the role rather more effectively. The educationists and linguists opine that children may be imparted education in their L ۱ as it is very easy for them to perceive the require contents readily.*

*Pashto is one of the oldest languages which is spoken and understood in many countries particularly Pakistan and Afghanistan where it is medium of communication of million of people. The progress of a language is reflective of the progress of its speakers but in case of Pashto it is a sheer failure. The proposition as to why Pashto language is not at par with the developed languages, the causes need to be probed. This article attempts to identify the hindrances that hamper the progress of Pashto language. Further is to discover those ways and means that enable Pashto language to overcome those hindrances and difficulties, and to start progress ahead vitally.*

الله پاک په قرآن مجید کښې فرمائي:

لقدخلقنا الانسان في احسن تقویم.[۱]

ترجمه: بې شکه چې مونږ انسان په غوره صورت کښې پیدا کړ.

هم د دغه خداداد خوبیو په سبب انسان ته په نورو مخلوقاتو شرف او عظمت حاصل دے.په الهامي بخښنو کښې یوه ډېره اهمه بخښنه دژبې ده چې د انسان

★ Assistant Prof Government Post Graduate Collage Kohat

پـه خولـهٔ کښـې اوړي راوړي او دمخصوصـو غړونوپه اسـاس د خپلـو جـذباتو، احساساتو او خيالاتواظهارپرې کوي.

ژبه د يوقـام پېژنـدګلوده.ديوقام د تـاريخ ،کلتـور، دوددستو، د روايـاتو او قدرونو قلا ده.د يوقام دعروج او زوال انحصارهم پـه ژبـه د ے.کوموقومونـوچې پـه خپلـې ژبـې ويـاړ کـړے ، د خپلـې ژبـې لمـن ئـې پـه هـېڅ ډول نـهٔ ده پـرې اېښـې،دعلم اوفن،ژونـدژواک اودوددسـتورژبه ئـې ګرځـولے ده،هغـه قامونـه دترقـۍ پـه بـام ختلـي ولاړدي.او کوموقومونـوچې خپلـه ژبـه غـورځـولے ده ،هغـه قامونه تل دمنزل له پړاوه غورځېدلي ليدل شوي.

حمزه باباځهٔ ښکلې وېنا کړے ده.

خپلې ژبې خپل تهذيب وته چې شـاکا
ملګرتيـالـه هغـه قامـه ژونـدون نـهٔ کـا
اول خپلــه ژبـــه پســـته نـــورې ژبـــې
بې بنيـاده عمـارت خوسـمون نـهٔ کـا[۲]

دمحققينوديوې اندازې په سمون په نړۍ کښـې تقريباًاووهٔ زره ژبې وئيلـې شي.هره ژبه په څهٔ نه څهٔ ډول قـام لـري ،مورپلارلري.هرڅوک پـه هغـه ژبـه مئـين وي کومه چې دهغهٔ دکورژبه وي ،کومه چې دهغهٔ دمورژبه وي.يوکس که ډېرې ژبې هم زده کړي خوکومه رواني،خوږلت او ازادي چې هغـه پخپلـه مـورنۍ ژبـه کښې محسوسوي دومره په بله يوه ژبه کښـې هـم امکـان نـهٔ لـري. پـه دغـه دليـل دتعليم ګڼ ماهرين په دې خبره اتفـاق لـري چې ماشـومانوله دې پـه مـورنۍ ژبـه کښې تعليم ورکړے شي. دمورنۍ ژبې ددې اهميت پـه اسـاس د اقـوام متحـده دبنيـادي انسـاني حقونوپـه چارټرکښـې هـم بچوتـه پخپلـه مـورنۍ ژبـه کښـې دتعليم حق ورکړے شوےدے. پـه دغه حوالـه ګڼې تجربې شوې دي خومېدان همېشه هغه ماشومانوګټلے د ے چاچې په مورنۍ ژبه کښې زده کړه کړې ده.

یونیسکو په دغه حواله هر کال په یویشتمه فروری، د مورنو ژبو نړیواله ورځ نمانځي. چې مطلب ئې په هغه ورځ فقط د یو څو کسانو راغونډېدل، مظاهرې او خبرې کول نهٔ دي بلکې قامي ژبو ته خپل حقوق ورکول او عملي کول دي.
اروښاد ایوب صابر وائي:

چې د کوروي کومه ژبه
هم هغه به د ادب وي
چې د موروي کومه ژبه
هم هغه به د مکتب وي[۳]

الله پاک په قرآن شریف کښې فرمائي:
وما ارسلنا من الرسول الا بلسان قومه لیبین لهم.[۴]
ترجمه: اونهٔ دے لېږلے مونږ هېڅ یو پېغمبر د هغهٔ قوم ته مګر په خپله ژبه کښې ځکه چې هغوي په ښهٔ ډول پوهه کړي.
د دې ایت په تشریح ډېر ځهٔ لیکلے شي خو مرکزي نکته ئې د مورنۍ ژبې اهمیت او افادیت څرګندول دي. ځکه خو د پښتو ژبې لوئے قهرمان خوشحال خان خټک د خپلې ژبې په باب وائي:

په پښتو شعر چې ما علم بلند کړ
د خبرو ملک مې فتح په سمند کړ
قتلمې مې ورته سازې کړې د قندو
داوبشو په ډوډ یو چې چاشخوند کړ
په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په معنا مې د شیراز او د خجند کړ
په پارسۍ ژبه مې هم ژبه ګویا ده
په پښتو ژبه مې خلق بهره مند کړ[۵]

امریکه، برطانیه، فرانس، روس، چین او دداسې نورو ترقي یافته هېوادونو دترقۍ راز دهغوي په خپله ژبه کښې پټ دے. جابربن حیان، محمدبن موسا الخوارزمي، محمدبن عبدالمالک اصمعي، یعقوب الکندي، محمدبن زکریا، ابونصر فارابي، بوعلي سینا ، ابوریحان البېروني، ابن الهیشم، نصیرالدین طوسي وغېره هغه نومونه دي چې د سائنسي علومولکه طب ، حیاتیات، طبیعات، کیمیا ، حساب، الجبرا ، هندسه، فلکیات، جغرافیه وغېره په حواله تراوسه ژوندي دي. خودترقۍ رازئې علم دوستي اوخپله ژبه ده.

د مامون الرشیدنوم په دغه حواله دذکروړ دے. وئیلے شي چې هغوي به دخپلې ژبې کتاب دسروزروپه تول اخستو. کورپه کورکتبخانې وې. دطرابلس په ښېرغتېوکتبخانوکښې خوتر دېرشولکوپورې کتابونه موجود وو. عربودیني اودنیوي علمونه پخپله ژبه کښې عام کړل په دې غرض چې عام اولس ترې فائده واخلي. په قول دمولانا حافظ محمد ادریس:

"دخپلې ژبې غاړې ئې دومره ارتې کړې چې یوخواته ئې دایران د زرګونوکالونوپنګه ونغړده بل خواته ئې دهندوستان راغونډ کړے سامان هضم کۀ. بل خواته ئې دیونان ټول علمونه په عربۍ کښې راونغښتل. او کمال ئې داوکۀ چې د ذرې نه غرجوړکۀ اود بڅرکي نه ئې نمرجوړکۀ." [۶]

خوورو سته چې عربودخپلواتلانومشرانوپه پل خپل پل وانخست نونن ښکاره ده چې دعربوپه پس خورده شخوندوهلي فرنګیان دهغوي لاربنودنه کوي.

نورې ژبې زده کول که دے کمال
خپله ژبه هېرول بې کمالي ده [۷]

"دژبوترمېنځ دتربګنۍ یا د رقابت یالروبرهېڅ قسم بحث جائزاومعقول نۀ دے. هره ژبه کښې دخوربدواوترقۍ جوهریوشان موجوددے که ویونکي ئې

ژوندي ،پوهه اوشوق لرونکي علم دوسته وي نوژبه هم لويه اوخوره شي اوکه نهٔ وي نوسره ددغه جوهرد وجودئې مېدان لنډتنګ شي. "[۸]

اروښادايوب صابرځهٔ ښکلې وېناکړې ده.

يوادیب یم بیخي پاک له تعصبه
احترام دهرې ژبې زهٔ کومه
داخبره هم دچانه پټه نهٔ ده
مورنۍ ژبه وي ډېره محترمه[۹]

دماهرينودرائې په سمون پښتوهم فراخه ژبه ده کوم چې دپښتون هومره زوړتاريخ لري.ديوتحقيق ترمخه په پاکستان کښې د ويونکودشرح په کچ دويم نمبرلويه ژبه ده او دنړيوالوژبوپه فهرست کښې په يود پرشم نمبرده.دماهرينوخيال دے چې پښتوژبه دنوروژبوسره سم د جخت مزل کولوصلاحيت لري.خوپښتودغه ارتقائي سفرکښې ولې پاتې راغله- عصري علمونه ئې په خپله لمن کښې ولې ځائے نهٔ کړل- د درس اوتدريس ژبه ولې ونهٔ ګرځېده- په يويشتمه پېړۍ کښې هم د پښتو وجود ته خطره ده ولې!ولې!

اګرچې ۱۹۷۳ء ارټيکل ۲۵۱ شق نمبر۳ترمخه صوبوته دصوبائي ژبودترقۍ،استعمال اوتعليم په حواله دقانون جوړولوحق هم ورکړے شوے دے.

دبيان په حېث خوبالاخبرې کېدےشي خوزما ترپامه پښتو له ځايه فقط ديوې لوئې الميې سره مخ ده اوهغه دخپلوپښتنودلاسه دپښتوبې قدري ده اوبس.

اروښادسليم خان استادځهٔ عجبه وېناکړے ده.

پښتوکوځه په کوځه ګرځي پښتانهٔ لټوي
پښتون په مخ مندې وهي چې ما دې نهٔ لټوي[۱۰]

تاريخ ګواه دے چې په يوهېواد کښې دوه ډلې په لويه پېمانه بدلون راوستے شي يوچې کله عام اولس وغواړي نود انقلاب لاره بياڅوک هم نۀ شي نيولے اوبل چې دچاپه لاس کښې دحکومت واګې وي هغه هم چې وغواړي نوخپله مرضي عملي کولےشي. دهغې يوورړوکےمثال داد ے چې دلته هرکله هرقام هم قبضه کړې ده نودنوروډېروکارونوسره سره ئې خپله ژبه هم د دربارژبه ګرځولې ده چې اثر ئې بياترډېرې مودې مونږمحسوس کړے د ے.خوددې خاورې په تاريخ کښې پښتو يوه داسې بدنصيبه ژبه ده چې نۀ اولس خپله کړه اونۀ پښتنوحکمرانانو. په دې خاوره پښتنوبادشاهانوپه سؤونوکالونوبادشاهي کړې ده لکه غلجي خاندان،لودي خاندان،سوري خاندان،ابدالي خاندان اوبارکزئي خاندان.خودې پښتنودژبې په حواله دياد ولوکار ونۀکړ.

> دعبدالکريم بريالي په حساب په موجوده دورکښې لس
> سياسي پارټيانې اسمبلۍ ته نمائيندګان ليږي اوپه
> هغې کښې د دې دريو کروړو پښتو ويونکونمائيندګي
> دا سياستدانان کوي ولې دوي دژبې دپاره هيڅ داسې
> خاطرخواه کارنۀ د ے کړے.(۱۱)

دخيبرپښتونخواپه صوبې خوله ځايه دپښتنوحکومت راغلے د ے خوکله ديوې پښتنې سياسي پارټۍ اوکله دبلې خوپښتواګرچې په ځنې دورکښې دفائلونوترحده خوپه دفترونوکښې وګرځېده د اينودپاره دپښتوکتابونه هم چاپ شول.په ځنې سکولونوکښې استاذانوپه نۀ زړۀ لږه موده وُهم ښودله خوپه سنجيده ډول چاعملي نۀ کړه.

خوشحال خان څلورسوه کاله وړاندې وئيلي خولکه دنن دپاره ئې وئيلي چې:

> چــــائې پلؤدجمـــــال وانخســـــت
> پښـــــتوله هســـې بکـــره پرتـــه ده۱۲

اويادا چې :

زۀ ئـــې چـــالره وهـــم قـــدرئې چـــازده
پـــه اور وســــېزه دا تـــورې قلمونـــه[۱۳]

ماته په دغه موقع په هغه بدنصيبه ماشوم او زمونږ عاجزې پښتوکښې څۀ ډېرزيات فرق نۀ ښکاري کوم چې خپل مورپلار يوجابرباداشاه ته حواله کړے ؤ.

وائي چې په تېره زمانه کښې يوبادشاه سخت ناجوړه شو.دډېرعلاج باوجودئې څۀ فرق رانغے.اخريوحکيم ورته ووې چې ستاعلاج ديوماشوم په قربانۍ ممکن دے.بادشاه خپل ټول درباريان ديوماشوم په لټون پسې سرکړل،هغوي ډېروګرځېدل خوڅوک هم دخپل بچي په مرګ رضانۀ وو.اخرئې يوسړے بياموندوچې ډېرغريب ؤاوبچي ئې هم ډېر وو،ددومره بچوپالنه دهغۀ دپاره ګرانه وه نوهغه ددرباريانوپه لالچ کښې راغےاودخپل يوماشوم په قربانۍ رضاشو.ماشوم دربارته بوتلےشو.خودربارته سم په رسېدوپه لوبو سر شو. دشګودرې ډېرکي جوړوي اوبيادوه ورانوي يوپرېږدي.بيادوه جوړوي اوبيائې ورانوي.اخردباچاهم ورته پام شو.ماشوم ئې راوبلۀ اوتپوس ئې ترې وکړوچې دا درې ډېرکي دې ولې جوړکړل اودايوپرېږدې ،دادوه بيابيا ولې ورانوې.ماشوم په ډېرعاجزۍباچاته مخاطب شوچې باچاسلامت:دا درې ډېرکي زمادرې لوئې اسرې دي.يوالله پاک دے.دويم زمامورپلاراودريم د وخت حاکم!مورپلارخواول په پېسوخرڅ کړم .دهغواسره مې ختم شوه.دمورپلارنه پس دويم د وخت حاکم بيادې اسرې ماشومانوپه سرلاس ږدي خوزۀ خودمرګ دپاره د وخت حاکم پخپله واخستم نوفريادچاته وکړم.اوس ديوالله پاک درباريادتې دے ځکه زۀ دا يوډېرکےپرېږدم اودادوه ورانوم.

دننۍ پښتوحال هم ددې ماشوم نه څۀ ډېرمختلف نۀ دے ځکه چې هم دخپل اولس دلاسه خواره ده اوهم د رياست له لوري سرپرستي نۀ لري.څومره خوانده پښتانۀ به وي چې دپښتوليک لوست کولے شي؟ څومره خوانده پښتانۀ بـــه وي چـــې دخپلوقــامي اتلانــو خصوصـــاً دخوشـــحال خـــان اورحمـــان

بابادافکاروسره به اشناوي اودبلې ژبې دقامي شاعرانوسره به ئې تقابلي مطالعه وړاندې کولے شي؟ مونږ خبرې خوپه پښتوکښې کوؤخوچې کله خبره دپښتوکيږي نوبيالاګونګيان ولاړيواولاډمخالفې ډلې ملګري يو.

"په هندوستان اوکشمیرکښې په لکونوپښتانۀ اباددي خونن ئې چې ژبه هېره کړې ده نوټول پښتني تشخص ئې ختم شوے دے.ثقافت ئې بدل شوے دے.اوډژوندانۀ کړۀ وړۀ ئې بيخي بدل دي.دغه شان دپاکستان په نوروصوبوکښې چې پښتانۀ دپخوانه ابادشوي دي هغوي اول خپله ژبه بائلله او وروستوئې خپل ثقافت هم پرېښودو.اګرچې هغوي نن هم خپلونومونوسره دپښتون قامي اوقبيلوي سابقې لاحقې لګوي.خوتاريخ ډېرې مخه بې لحاظه دے.هغوي ئې دپښتودصف نه بهر دېکه کړي دي.صرف په دې وجه چې ژبه ئې نشته،ژبه ئې پښتونۀ ده اوپه پښتونۀ پوهيږي."[۱۴] هم دغه حال دهغه پښتنوهم دے کوم چې په نوروخارجي ملکونوله پخوانه ميشتۀ دي.

زمايه نزددپښتودبقااوعام کولودپاره دالاندېني اقدامات عملي کول ضروري دي.

۱- پښتودليک لوست ژبه جوړول:

پښتودليک لوست ژبه جوړول دټولونه بنيادي اوضروري خبره ده.هرپښتون دې په خپل ګرېوان کښې وګوري چې دهغۀ مورنۍ ژبه خوپښتوده .په کور،کلي اوښارکښې خوپښتووائي خو ايا! هغۀ چرته دپښتوورځپاڼه، مجله ياکتاب هم په ژوندکښې کورته دلوست دپاره راوړے دے،يا ئې چرته دخپلې خوښې مضمون په پښتوکښې ليکلے دے.دپښتنوپه ښارکښې په خود کانونو په پښتوکښې تعارفي ليک شوےدے.خوسائن بورډونه په پښتوکښې ليک دي؟ دپښتوژبې عظيم ترين محسن خوشحال خان خټک په نوم يونيورسټي درې کاله پخواجوړه شوې ده خودحيرانۍ خبره داده چې تراوسه پکښې دخوشحال په نوم څۀ ،چې د پښتوپه نوم هېڅ يوه څانګه نشته_ داسې چرته په بله ژبه کښې کېدے شي ؟ دمثال په توګه چې دشکسپئرپه نوم په انګلستان

کښې یونیورستې وي اودشکسپیرځۀ ،چې د انګریزۍ پکښې هډونوم نۀ وي .هره شعبه په پښتوکښې وي.دا د ددې وطن نه علاوه بل هېچرته ممکنه ده ځکه چې مونږ همېشه خپل سپک ګنلي اودغېروموقصیدې وئیلي- ترڅوچې پښتو د کلهمو پښتنودلیک لوست ژبه نۀ وي جوړه شوې ترهغه پښتوشله ده.
اروښادپرېشان خټک پخائے وئیلي دي :

ماپــــه پښتوکښــــې دپښـــتوغندنې واؤرېـــدلې
داظالمان ئې چې کنځي هم په پښتوکښې کنځي
دځنکدن سلګۍ وهي نورپکښې څۀ پاتې دي
پښـــتانۀ ولــې داقېـــدي پـــه زولنوکښــې کنځــي
اخرپښـــتوعالم پـــه بـــده ســـترګه ولـــې ګـــوري
چـــې ســـرپه تامـــدام بـــائلي دهغـــه قـــام ژبـــه ده
ســـتابنيادونه نـــړوي چـــې څـــوک پښـــتوختموي
زماوطنـــه! پښـــتوبچ کـــړه داســـلام ژبـــه ده [۱۵]

۲- دیومستند ،معیاري اواسان لیک دوداطلاق:
په ګړده پښتونخواکښې د یوداسې قسم لیک دودعملي کول لازمي دي چې معیاري هم وي او اسان هم.په دغه لړکښې په پرتهنګ پرېسونوداپابندي لګول پکاردي چې هغه ددې یکي یولیک دودنه علاوه په بلې املاکښې هېڅ قسم اثرنۀ چاپوي .دغه رنګ به هرڅوک دخپلې مرضۍ املاپه مونږ نۀ راتپي.
۳- د درس اوتدریس ژبه:
ګڼ څېړنکاران اودتعلیم ماهران په دې خبره یوه خولۀ دي چې ابتدائي تعلیم په مورنۍ ژبه کښې سودمند دے.ټولوترقي یافته ملکونوپه دې په سختۍ سره عمل کړے دے. خوپښتوپه دغه حواله ډېره پاتې راغلې ده.ددې وجوهات ډېرهم دي اوڅرګند هم .خوزۀ دهغه وخت دپښتوپراجکټ پخوانےچئیرمېن پروفېسرخواجه محمدسائل لیکلي وجوهات په مختصره توګه وړاندې کول غواړم.

(۱) دحکومـت پـه کرسوناسـت افسـران چـې دانګرېـزۍ تعلـيم نـه متاثروو. دپښتوذريعه تعليم سخت مخالف وو.
(۲) دپښتون اوپښتومخالف قوتونه چې لکه ديومضبوط جاسوسي اداري هره لمحه په مونږ پسې وواوچې کوم سکول کښې به پښـتورائج شـوه دغلتـه بـه دوي رسېدلي وواودپښتـوذريعه تعليم خـلاف بـه ئـې قسماقسم پروپېګنډې شروع کړې.
(۳) دحکومت له اړخه په مورنۍ ژبه کښې دذريعـه تعليم احکامات خوموجود وواواوس هم دغه احکامات برقراردي ولې پـه دې احکـامو عمـل درعمـل دپاره سرکاري مشينري مخلص نۀ وه اوپه خولۀ يوه په زړۀ ئې بله.
(۴) دپښتوددې پراجکټ عمله او وسائل ډېرکم وو.
(۵) دجنـوبي اضـلاع زيـاتره اسـتاذان ددې مخـالف وواودوي عـام عـوام دپښـتوذريعه تعلـيم خـلاف پـارول عـن چـې کـرک کښـې يوسياسـي جماعـت دپښتوذريعه تعليم خلاف جلوسونه وښکل.
(۶) دپښتوخلاف ډله مضبوطه اومتحده وه خودپښتوحمائتي ډله متحده نۀ وه.
(۷) دپښتوذريعه تعليم دناکامۍ يوغټ سبب دا هم ؤچې زمونږ په کليوالـه عـن چې په قبائلي علاقه کښې زنانه استاذانې دښارونوتعليم يافتـه ښځې وې چې دهغوي مورنۍ ژبه پښتونۀ وه اومخالفت ئې يو فطري امرؤ.
(۸) عام استاذان څۀ چې پښتانۀ استاذان هم دپښتوليک لوست سره بلدنۀ وو.
(۹) پښتوپراجکټ دټکسـټ بـک بورډ مخـالف اداره ګڼلې شـوه اوټکسـټ بـک بورډهم دپښتوذريعه تعليم خلاف سرګرم عمل ؤ.
(۱۰) دسکولونود افسرانومزاج هم ددې خلاف ؤ.
(۱۱) د اردواوپښتوذريعه تعليم کښې يوغټ فرق داؤچې پـه اردوکښې پنځۀ مضمونونه وو ولې په پښتوکښې شپږ چې دطالبعلمانوسره ناانصافي وه.
(۱۲) دسياسـي پارټيوعهدېـداارانو، ممبرانو او وزيرانوپـه دغـه بـاب هـېڅ پـه اخلاص کار ونۀ کړو.[۱۲]

پښتوچې ترڅود درس اوتدریس ژبه نهٔ وي ترهغه د دې ژبې ترقي هوائي خبرې دي.دنصاب ژبه پښتوپکارده اویاددولسم جماعت پورې پښتودلازمي مضمون په حېث شاملول پکاردي.دپښتنوبچوبدنصیبي ده چې د زده کړې ټول عمرئې د نورو ژبوپه زده کولوکښې تېرشي.په انګرېزۍ کښې ماسټروکړي خود پارټس اف سپيچ په صحيح استعمال قادرنهٔ شي ،تحقيق خوډېره لرې خبره ده.

**۴- جديدعصري علوم،پښتواوقامي ترقي:**

پښتوډېروصلاحيتونوخاونده ژبه ده.په ښهٔ ډول عصري علمونه په خپله لمن کښې ځايولے شي. بائدچې پښتو اراداتاً دعصري علوموژبه جوړه کړے شي.په دغه حواله دهرې ژبې دګټه وروکتابونوترجمې ډېرې سودمندې دي.په دغه حواله په هنګامي بنيادونوکارکول دي،مختلف پراجکټونه سازول دي .بلکې حقه خودا ده چې ددې کار دپاره يوه بېله اکېډمي جوړه کړے شي. دغه رنګ به نهٔ صرف دپښتولمن درانه شي بلکې پښتانهٔ به دعالمي رجحاناتونه خبرشي.زماپه نزددقامي ترقۍ هم دغه يوه لاره ده چې مونږدخپلې ژبې په اساس په جديدعلمي اوفني ډګردنړۍ سره سيال شو.

**۵- ګلوبلائزېشن اوپښتو:**

د وخت ضرورت دے چې پښتوپه نړيوال ډګردنوروژبو سره اوږه په اوږه اودرېږي. دالېکټرانک ميډياژبه جوړه شي. د شاکرعزيزي يوجهان مننه چې پښتوئې په دغه حواله دنوروژبوسره سياله کړه.پښتودهغوي په زيارپه ګوګل ټرانسلېټرکښې ځائے وموندو.اواوس دپښتواونوروا هموژبودتقابلي لغاتوپه حواله کارکوي.بائدچې پښتوته په دغه حواله هېڅ ستونځه مخې ته نهٔ وي.

**۲- دفرهنګ اوکلتورژبه جوړول:**

پښتوپه زرګونه کاله زوړتاريخ لري.نوموړي اتلان اومشران لري خوزمونږ دغه قامي اثاثه هله محفوظېدے شي چې پښتوزمونږدفرهنګ اوکلتورژبه وګرځي ځکه چې دپښتوادب اوکلتورژوندي ساتلودپاره دژبې

احیاء ډېره ضروري ده.په ۲نومبر ۲۰۰۱ء د یونیسکوبورډ اف گورنرز په یوکانفرنس کښې ددې اعتراف هم شوے دے.

۷- دپښتوکتابونه،مجلې او ورځپاڼې:

دیومشن په توګه په پښتوژبه کښې په هرعلمي ،ادبي،تحقیقي، تاریخي، معاشرتي،اقتصادي ،سائنسي اوسماجي اړخ کتابونه،مجلې او ورځپاڼې خپرول پکاردي.په دغه باب دهرې ژبې دعلم اوادب نه فائده اخستل ضروري دي.

۸- دپښتنوشاعرانواوادیبانوحوصله افزائي:

پښتوپه صحیح معنوکښې یودشاعرانواوادیبانوپه زیارژوندے ده اوبل دپښتنوپه وینه یعني یو په افغانستان د روس یلغارد پښتود تشهیرسبب شو او بل د نائن الیون پېښې په ګرده نړۍ کښې خوره کړه. د پښتو د بقا دپاره ضروري ده چې دشاعرانواوادیبانو حوصله افزائي په مختلفوطریقو وکړلے شي.دهغوي معاشي ستونزې هوارول پکاردي .دغه رنګ به دوي خپل قلمونه دپښتوپه باب نورهم تېز وچلوي.

۹- دسرکارسرپرستي:

دسرکاردمرستې نه بغېریوه ژبه هم د ارتقاپه لورنۀ شي تلے.کله چې یوه ژبه دسرکارشي نوهله هغه ژبه د درباراو دروزګار ژبه جوړه شي او د ارتقاپه لورګړندے شي.پښتوله ځایه دسرکارله پامه بې پامه ده.بائدچې پښتوته سرکاري سرپرستي حاصله شي اوهم دغه دپښتودبقااوارتقااهمه لار ده.

ښنګه هېره کړم پښتوزۀ
ښنګه ځان خاورې ایرې کړم
وسیله مې دعظمت ده
خپله ژبه ښنګه پرې کړم[۱۷]

## حوالې:


۱- القرآن، سوره تین
۲- شنواري حمزه ، غزونې، جدون پرېس پېښور ۱۹۹۱ء لسم ایډیشن، مخ ۳۳۰
۳- ایوب صابر، ځیګرخون، دچاپ ځائے پېښور ۱۹۸۳ء دویم ځل، مخ ۲۳۹
۴- القرآن، سوره ابراهیم
۵- خټک، خوشحال خان ، ارمغان خوشحال مرتبه سېد رسول رسا یونیورستي بک ایجنسي پېښور، دچاپ کال ندارد ، مخ ۲
۶- محمد ادریس، مولانا حافظ، سائنس او مسلمان مشموله دعلم لارې مرتبه عبدالرؤف نوشهروي، عظیم پبلېشنګ هاؤس پېښور، ۱۹۶۵ء، مخ ۱۲
۷- وزیر ، محمد ګل خان ، دپښتو ژبې لیاره، لاهور، ۱۹۳۸ء، مخ ۱
۸- قاضي فضل غفران ، ګل افضل خان، دپښتو ژبې دزده کړې لارې، پېښور، چاپ کال ندارد ، مخ ۱۱
۹- ایوب صابر، ځیګرخون ، مخ ۲۱۳
۱۰- استاد ، سلیم خان په حواله د ډاکټر وزیر شادان، دپښتو شاعرۍ په ارتقا کښې دکوهاټ برخه (پي ایچ ډي مقاله) ناچاپ، پېښور یونیورستي ۱۱-۲۰۱۰ ، مخ ۱۵۰
۱۱- بریالے، عبدالکریم، ورځپاڼه وحدت ، پېښور، ۲۳ فروري ۲۰۱۲ء، مخ ۳
۱۲- خټک، خوشحال خان ، ارمغان خوشحال، مخ ۱۷۴
۱۳- خټک، خوشحال خان، دیوان خوشحال خان خټک، جدون پرېس پښور، چاپ کال ندارد ، مخ ۲۳۳
۱۴- سلیم راز، ژبه او قامي وجود ، پښتو، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، مۍ جون ۲۰۰۳ مخ ۴۵-۶۴
۱۵- خټک پرېشان ، تنهاکي، جواد پرېس پېښور، ۱۹۸۲ء دویم ځل، مخ ۲۷
۱۶- سائل، پروفېسر خواجه محمد پښتو، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، مارچ اپرېل ۲۰۰۲ ، مخ ۱۵
۱۷- ایوب صابر، ځیګرخون ، مخ ۲۱۳